افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

بریا د ټولو هیله

اتم کال، څلورمه ګڼه | جولای - اګست ۲۰۲۱ کال

د افغانستان کرکټ بورډ
د رسنیو څانګه
میاشتنۍ مجله
جولای ـ اګست ۲۰۲۱

د امتیاز خاوند:
د افغانستان کرکټ بورډ د رسنیو څانګه

بازار موندنه: نجي الرحمن عزيزي
ډیزاین: احمد عابد سعادت او قادر خان

media@afghancricket.af
AfghanistanCricketboardOfficial
@ACBOfficials
afghanistancricketboard
www.cricket.af
Kabul International Cricket Stadium Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul Ghani Khan Road, Kabul Afghanistan

لیکلړ

۱

سـرمقالــه

۲

عزیزالله فضلي د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس وټاکل شو

۴

سولي ساتونکو لوبډلې د خپلواکۍ شل اوریزه جام په خپل نوم کړ

٦

د شپږیزي کرکټ لیګ په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره اته لوبډلې ویلول شوې

۸

شان ویلیم به عنوان مربی توپ اندازی تیم ملی افغانستان گماشته شد

۱۰

امو زون د زونونو په کچه د معلولینو شل اوریزه سیالیو اتلولي خپله کړه

۱۲

انواع بازی کرکټ (فارمت های بازی کرکټ)

۱۴

د کرکټ په لوبه کې «اوور ریټ» څه ته وایي؟

۱۸

د پاکستان پر وړاندې د نړیوالو یو ورځنیو لوبو لوبډلې وځنډول شوه

۲٦

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځوان لوبغاړي صدیق اتل سره مرکه

۳۴

بهترین ورزشگاهای کرکټ در جهان

۴۵

The best of Tests

۴۹

Top 10 selfless knocks in the history of cricket

سرمقاله

په کرکټ کې د نورو برخو ترڅنګ خصوصي سکتور هغه برخه ده چې تقریباً کرکټ په پښو دروي او مهم رول په کې لوبوي. د نړیوال کرکټ ترڅنګ د افغانستان کرکټ کې هم خصوصي سکتور خپله ونډه اخیستې ده او په اساس یې د افغانستان کرکټ پرمختګ هم کړی.

زمونږ د کورنۍ کرکټ یوه مهمه برخه چې شپږیزه کرکټ لیګ دی، د خصوصي سکتور په ملتیا مخ ته ځي او هیله مو همدا ده چې ملي پانګه وال او سوداګر په افغان کرکټ پانګونه وکړي.

د افغانستان د کورني کرکټ ستر سوداګریز شپږیزه کرکټ لیګ هم هر کال د بېلابېلو سوداګرو او پانګه والو په برخه اخیستنې ترسره کېږي، چې د ګڼو ملي او کورنیو ځوانو لوبغاړو سره په اقتصادي برخه کې مرسته کوي.

له نیکه مرغه دا ځل د شپږیزه کرکټ لیګ د اتم پړاو لوبو لپاره او د افغانستان د کورني کرکټ په تاریخ کې په لومړي ځل اته لوبډلې جوړې او وپلورل شوې، له دې وړاندې په دغه لیګ کې یوازې شپږ لوبډلو شتون درلود چې د سوداګرو له لوري به پېرل کېدې؛ خو دا ځل د دوو نورو لوبډلو په زیاتېدو سره د لوبډلو شمېر اتو ته لوړ شو چې په پایله کې به یې ګڼو کورنیو او ځوانو لوبغاړو ته د لوبېدو زمینه برابره شي.

په اتم پړاو شپږیزه کرکټ لیګ کې به اته لوبډلې (کابل بازان، مس عینک اتلان، بند امیر ښاماران، سپین غر زمریان، بست ساتونکي، امو نهنګان، هندوکش ستوري او پامیر زلمي) ګډون ولري.

د یادونې وړ ده چې د شپږیزې کرکټ لیګ د اتم پړاو لوبې د بانکي او مالي ستونزو له امله تر نا معلومې نېټې ځنډېدلې دي او د یادو ستونزو په حل کېدو سره به بیا ځلې پیل او په ښه ډول ترسره شي.

عزیزالله فضلي

د افغانستان کرکټ بورډ عمومي رییس وټاکل شو

ښاغلی عزیزالله فضلي د افغانستان کرکټ بورډ د عمومي رییس په حیث ټاکل شوی؛ نوموړي له ۲۰۰۰م کال څخه د افغانستان په کرکټ کې کار کړی او د کرکټ پرمختګ کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي. ښاغلی فضلي د هېواد له کرکټ څخه باخبره او مسلکي شخص دی او په تېرو دوو لسیزو کې یې د افغانستان د کرکټ برخه کې د پام وړ رول لوبولی دی.

نوموړي د اګست په ۲۲مه نېټه د خپلې پېژندنې په ورځ په خپلو خبرو کې د اداري کارکونکو ته ډاډ ورکړ چې د دوی په ټولو کورنیو او نړیوالو مسایلو کې به

دوی ته د ډیرې ونډې په خاطر مناسب چاپیریال برابرېږي او له وړتیاوو څخه به یې د افغانستان په کرکټ کې کار اخېستل کېږي؛ تر څو افغان ولس ته لا نورې خوشحالۍ هم ور په برخه کړي.
نوموړي همدا راز زیاته کړه چې اوسنې حالت ته په کتو د کرکټ نړیوالې شورا سره د ښې همغږۍ په پام کې نیولو سره راتلونکې شل اوریزه نړیوال جام ته د چمتووالي په موخه ښه پلانونه لري.
ښاغلي فضلي یادونه وکړه چې کرکټ د افغانستان خلکو ته د خوښۍ او د هېواد د پرمختګ یوه اغېزناکه وسیله ده، نو په کار ده چې د دغو موخو تر لاسه کولو لپاره په خورا لېوالتیا سره دوامداره کار وکړو.
ښاغلي عزیزالله فضلي په پای کې وویل چې د افغانستان کرکټ بورډ مشرتابه به د کرکټ بېلابېلو برخو ته خدمت ترسره کړي، ملاتړ به یې وکړي او د کرکټ ټولې لاسته راوړنې به په سم ډول وساتل شي.
دغه ناسته د افغانستان پرمختګ او هوساینې ته په دعا سره پای ته ورسېده.

د سولې ساتونکو

لوبډلې د خپلواکۍ شل اوریزه جام په خپل نوم کړ

د خپلواکۍ تر نامه لاندې په کابل نړیوال کرکټ لوبغالي کې د سولې اتلانو او سولې ساتونکو لوبډلو ترمنځ شل اوریزه لوبه ترسره شوه، چې د سولې ساتونکو لوبډلې د ٦٢ منډو په توپیر سیالې لوبډلې ته ماتې ورکړه.

دغه سیالۍ چې د کابل په نړیوال کرکټ لوبغالي کې ترسره شوه، د ګڼو ننداره چیانو درلودونکې وه، د سیالۍ ننداري ته د افغانستان کرکټ بورډ د سرپرست عمومي رییس ښاغلي عزیزالله فضلي او اجرایوي رییس ښاغلي ډاکټر حامد شینواري ترڅنګ نورو ګڼو میلمنو هم تشریف راوړی و.

د لوبې پچه د سولې ساتونکو لوبډلې وګټله او د توپ وهنې پرېکړه یې وکړه، ساتونکو په ټاکلو ۲۰ اوړونو کې د اتو لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۵ منډې ترسره کړې؛ چې د ناصر جمال ۴۷، د جاوید احمدي ۴۱، د شرف الدین اشرف ۳۰ او د منیر کاکړ ۲۴ منډې د یادولو وړ دي.

د سولې اتلانو لوبډلې په ګټه سميع الله شينواري درې، فريد ملک او افتاب عالم هر يو دوه- دوه او شمس الرحمن يوه ويکټ ترلاسه کړه.

د هدف ترلاسه کولو په موخه د لوبې په دويمه نيمايي کې د سولې اتلانو لوبډلې توپ وهنه پيل کړه، دوی د لوبې په ۱۷.۱ اوورونو کې د ټولو لوبغاړو په سوځېدو ۱۱۳ منډې جوړې کړې او لوبه يې د ٦٢ منډو په توپير د سولې ساتونکو لوبډلې ته وبايلله.

د اتلانو لپاره په توپ وهنه کې افسر ځاځي ۲۷، ګلبدين نايب ۲۰، عثمان غني او غمي ځدراڼ هر يو ١٦-١٦منډې جوړې کړې.

د سولې ساتونکو لوبډلې لپاره په توپ اچونه کې حمزه هوتک، شرف الدين اشرف، سيد شېرزاد او يوسف ځاځي هر يو دوه- دوه، عبدالرحمن او حشمت شهيدي هر يو يوه- يوه ويکټ ترلاسه کړه.

د لوبې غوره لوبغاړی شرف الدين اشرف وټاکل شو.

د شپږیزې کرکټ لیګ په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره اته لوبډلې وپلورل شوې

افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ سترو تجارتي لوبو او د شپږیزې کرکټ لیګ په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره اته لوبډلې جوړې او اتو کمپنیو ته یې د اتم پړاو لوبو د لوبډلو مالکیت امتیاز ورکړ. د شپږیزې کرکټ لیګ د اتم پړاو سیالیو لپاره اتو کمپنیو د اتو لوبډلو مالکیت امتیاز ترلاسه کړ، چې له دې ډلې یې راپېښ پې، چې د لوجستیکي خدماتو شرکت دی، د هندوکش ستوري لوبډلې، ایرو پارسال د پامیر زلمیان لوبډلې، شبر ځلاند د اوسپنې ویلې کولو شرکت د سپین غر پړانګانو لوبډلې، ایوبي دارالممتاز ساختماني شرکت د کابل بازان لوبډلې، سهاک تجارتي شرکت د امو نهنګان لوبډلې، شبر ولي یاري سوداګریز شرکت د بست ساتونکي لوبډلې، ولي روان خوراکي توکو د تولید شرکت د بند امیر لوبډلې او قیصر بابا لمتیډ د مس عینک اتلان لوبډلې د مالکیت امتیاز ترلاسه کړ.

د دغه هوکړې لیکونو د لاسلیک پر مهال د افغانستان کرکټ بورډ پخواني اجراییوي رییس ښاغلي ډاکټر حامد شینواري په خپلو خبرو کې دا ځل د شپږیزې کرکټ

لیګ په اتم پړاو لوبو کې د دوو نورو لوبډلو په زیاتوالي خوښي وښوده او له سوداګرو یې مننه وکړه، ښاغلي شینواري د کرکټ په وده کې د سوداګرو رول مهم یاد کړ او زیاته یې کړه:« دا ځل به د شپږیزې کرکټ لیګ لوبې د اداري د نورو همکارانو پر مټ په ډېر ښه او شانداره ډول ترسره شي، دا لوبې به د لوبغاړو په اقتصادي برخه کې ښه والی رامنځته کړي او د هېوادوالو د خوښۍ باعث به شي».
نوموړي همدا راز د ملي لوبډلي او ۱۹ کلنو څخه د کم عمره ملي لوبډلي راتلونکو لوبو ته اشاره وکړه او د لوبغاړو د غوره چمتووالي ترڅنګ یې دغه لوبو کې په غوره لوبو کولو ټینګار وکړ.
ښاغلي شینواري د خپلو خبرو په پای کې د پخواني عمومي رییس ښاغلي فرهان یوسفزي څخه هم مننه وکړه، چې په تېرو دوو کلونو کې یې د افغانستان کرکټ او اداري ته نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي، اداره کې یې اصلاحات رامنځته کړي، چې په اساس یې د پام وړ لاسته راوړنې لري.
د لوبډلو د امتیاز ترلاسه کوونکو په استازولۍ د بند امیر خامارانو د لوبډلې امتیاز اخیستونکي انورالله مخلص خبرې وکړې او د افغانستان کرکټ بورډ له اداري یې مننه وکړه، ښاغلي مخلص زیاته کړه:« زه په خپل وار د ټولو لوبډلو د امتیاز ترلاسه کوونکو څخه مننه کوم او مبارکي ورته وایم، چې د هېواد حالاتو ته په کتو د هېوادوالو د خوشحالۍ په موخه پانګونه کوي، تر څو مو ملي لوبغاړي په هېواد دننه لوبې ترسره کړي او د کرکټ مینوالو د تفریح سبب وګرځي».
ټاکل شوې وه چې دغه سیالۍ د سیپټمبر میاشتې په لسمه نېټه پیل شي خو د بانکي او مالي ستونزو له امله تر نامعلومې نېټې وځنډیدې.

شان تیت

به عنوان مربی توپ اندازی تیم ملی افغانستان گماشته شد

شان ویلیام تیت، توپ اندازی سریع استرالیا از سوی اداره کرکت بورد افغانستان به عنوان مربی توپ اندازی تیم ملی کرکت افغانستان گماشته شد. ویلیم علاوه بر استرالیا، برای تیم راجستان رایلز در لیگ برتر هند، برای تیم چیتاکانگ کینگز در لیگ برتر بنگله‌دیش و بسیاری تیم های دیگر جهان بازی کرده است. موصوف از جمله بازیکنانی است که در سال ۲۰۰۷م در قهرمانی تیم استرالیا در جام جهانی بازی های یک روزه نقش کلیدی داشت و توانست ۲۳ ویکیت به سود تیم اش بدست بیاورد.

شان همچنین یکی از سریع ترین توپ اندازان جهان است که سرعت پرتاب وی به ۱٦۰ کیلومتر در ساعت نیز رسیده است. این توپ انداز سریع تاکنون در ۳۵ بازی یک روزه بین المللی ٦۲ ویکیت، در ۲۱ بازی بیست آوره بین المللی ۲۸ ویکیت و در سه بازی تست، پنج ویکیت به سود تیم استرالیا بدست آورده است.

او پیش از این ضمن مربیگری مسابقات داخلی استرالیا، مربیگری مسابقات تجاری را در سایر کشورها بر عهده داشته است.

امو زون د زونونو په کچه د معلولینو شل اوریزه

سیالیو اتلولي خپله کړه

د نجیب الله تره کې تر نامه لاندې د زونونو په کچه د معلولینو ترمنځ د شل اوریزو سیالیو پای لوبه د امو او بست زونونو ترمنځ ترسره شوه، چې د امو زون معلولینو لوبډلې په کې بریا خپله کړه.

د دغې لوبې پچه امو لوبډلې وګټله او د توپ وهنې پرېکړه یې وکړه، دوی په ټاکلو شلو اورونو کې د شپږو لوبغاړو په سوځېدو ۱۷۲ منډې ترسره کړې، چې د سین الله سعید ۴۶، سمیع الله حبیبزي ۳۵ او فاروق خدراڼ ۲۴ منډې هم په کې شاملې وې؛ د بست لپاره عزت الله دوه، شعیب محسن، علاوالدین اچکزي، حزب الله او عنایت الله هر یو یوه، یوه ویکټ ترلاسه کړه.

د لوبې په دویمه نیمایي کې بست لوبډلې د ترلاسه کولو هدف لپاره توپ وهنه پیل کړه او د ټولو لوبغاړو په سوځېدو یې د لوبې په ۱۹.۳ اورونو کې ۱۳۲ منډې جوړې کړې او لوبه یې د ۴۰ منډو په توپیر امو لوبډلې ته وبایلله.

د بست زون لپاره په توپ وهنه کې قدرت الله ۳۸، حزب الله ۲۴ او شعیب محسن ۱۸ منډې ترسره کړې؛ د امو په ګټه بیا سین الله سعید، شیرین اغا سیف الله او طفیل دوست خېل هر یو دوه- دوه او اختر نبي یوه ویکټ تر لاسه کړه.

د پای لوبې غوره لوبغاړی له امو لوبډلې څخه سین الله سعید ونومول شو.

د سیالیو د غوره الراونډر جایزه هم د امو لوبډلې لوبغاړي سین الله سعید ترلاسه کړه. د سیالیو د غوره توپ اچونکي او د سیالیو (ایمرجینګ) لوبغاړي جایزه بیا اختر نبي ته ورکړل شوه.

د یادونې وړ ده چې د ۲۰۲۱م کال د نجیب الله تره کي ترنامه لاندې د پنځو زونونو(امو، بست، سپین غر، بند امیر او مس عینک) معلولینو ترمنځ شل اوریزه سیالی د جولای میاشتې په نهمه نېټه پیل شوې وې او د همدې میاشتې په ۱٦مه نېټه د امو زون معلولینو لوبډلې په اتلولی پای ته ورسېدې.

انواع بازی کرکت

(فارمت های بازی کرکت)

به طور کلی بازی کرکت تاکنون در سه شکل یا فارمت در سطع بین المللی بازی می شود. اول بازی تست است که پنج روز طول می کشد و هر تیم دارای دو نوبت هستند. در قدم دوم بازی های یک روزه قرار دارد که در پنجاه آور بازی می شود که در آن هر تیم یک نوبت دارد و سوم بازی های بیست آوره است که در این فارمت هرتیم یک نوبت دارد. شورای بین المللی کرکت (ICC) تنها این سه فارمت را به رسمیت می شناسد که زمان برگزاری، میدان بازی، داور و سایر موارد مرتبط به آن را تنظیم می کند. بازی های تست از سال ۱۸۷۷ میلادی، بازی های یک روزه (در شکل کنونی) از سال ۱۹۷۱ میلادی و بازی های بیست آوره از سال ۲۰۰۵ به اینسو بازی می شوند. مسابقات تست فقط بین اعضای دایمی شورای بین المللی کرکت که افغانستان نیز از جمله آن کشور ها است انجام می شود. این دو شکل یا فارمت دیگر نیز بین کشورهای عضو کامل، کشورهای رده دوم و سوم شورای بین المللی کرکت، بازی می شود. البته مسابقات بین المللی یک روزه و جام جهانی بازی های بیست آوره نیز وجود دارد. همچنین برخی دیگر از مسابقات تجاری ده آوره و بیست آوره نیز وجود دارد که توسط شورای بین المللی کرکت تاکنون به رسمیت شناخته نشده اند. می خواهم در اینجا ذکر کنم که مسابقات فرست کلاس (چهار روزه) نیز وجود دارد که بین کشورهای رده دوم و سوم بازی می شود، این مسابقات بهترین قالب مسابقات داخلی کشورهای عضو کامل است که با شورای بین المللی کرکت مطابقت دارد و ثبت رسمی شده است. همچنین مسابقات تجارتی بیست آوره نیز وجود دارد که مشهورترین آنها لیگ برتر هند (IPL) است.

I- TEST

ICC WORLD TEST CHAMPIONSHIP

ICC CRICKET WORLD CUP
ENGLAND & WALES
2019

T20
ICC
WORLD T20
AUSTRALIA 2020

ODI– T20

د کرکټ په لوبه کې

اوور ریټ

څه ته وايي؟

د کرکټ لوبه کې اوور ریټ د اورونو هغه اوسط شمېر ته وايي چې د بالينګ لوبډلې له لوري په يوه ساعت کې ترسره کېږي. په لوړ لېول کرکټ کې په کار ده چې د بالينګ تيمونه يا په بل عبارت، هغه لوبډلې چې توپ اچونه يا ډکرساتنه کوي، ترتولو کم اوور ریټ ترلاسه کړي. هغه 'بالينګ' لوبډلې چې د اوور ریټ په ساتلو کې پاتې راغلې دي، نمرې ترې کمې شوې دي، لوبغاړي يې جرمانه شوي دي او يا يې هم لوبډلمشران له راتلونکو لوبو څخه بند شوي دي. دلوبې له پيل وړاندې د مېچ ريفري يا سرلوبغار لخوا ټولې شمېرل شوي وقفې د بالينګ لوبډلې ته اعلانېږي. د ټېسټ کرکټ په يو ساعت کې بايد ۱۵ اورونه ترسره شي؛ د يو ورځنيو سياليو يوه پانۍ بايد په درې نيم ساعتونو کې ترسره شي او يا سيالې لوبډله د دې مودې له پوره کېدو وړاندې وسوځول شي او د شل اوريزو سياليو يوه پانۍ بايد له ۹۰ دقيقو څخه ډېر وخت و نه نيسي. د کرکټ د نړيوالې شورا د اصولو له مخې بايد په ټېسټ کرکټ کې د بالينګ لوبډله په هر ساعت کې ۱۵ اورونه پوره کړي، په يو ورځنيو سياليو کې بايد ۱٤.۳ اورونه او په شل اوريزو سياليو کې

باید په هر ساعت کې ۱۴.۱ اورونه بشپړ شي.
د هند په غوره لیګ (IPL) سیالیو کې هم دا مسئله ډېره جدي پلي کېږي، د دغو سیالیو په تېرو پړاوونو کې اصل دا و چې د پانی شلم اوور به د ۹۰مې دقیقې له ختمېدو سره پیلېږي، خو د ۲۰۲۱م کال هند غوره لیګ (IPL) سیالیو لپاره دغه اصل یا شرط کې بدلون راغی او د نوي اصل له مخې به د توپ اچوونې لوبډله د ۹۰مې دقیقې تر پایه خپل شلم اوور پای ته رسوي. له دې هاخوا د هرې ویکټې د غورځېدو لپاره (۲ دقیقې)، د اوبو څښلو لپاره (٤ دقیقې)، د ډي آر ایس یا د پرېکړو د بیا کتنې لپاره، د لوبغاړو د ټپونو د درملنې، د سایټ سکرین د ستونزو او نورو عواملو لپاره چې د لوبډلمشر له توانه پورته یا د هغه له کنټروله بهر وي، اضافي وخت او وقفې ورکول کېږي، چې د لوبډلو مشران کار څخه اخیستلای شي.

د سلو اوور ریټ له امله د جریمو

تاریخچه!

له ۱۹۹۲م کال راهیسې ٤۸٥ ځلې د سلو اوور ریټ پېښې ثبت شوې دي، چې ډېرې وخت پرې سترګې پټې شوې دي، یا له پامه غورځېدلې دي؛ خو په ځینو حالاتو کې بیا لوبغاړي له بندیزونو سره هم مخ شوي دي؛ چې حتی قضیې یې تر محکمو پورې رسېدلې دي. د کرکټ نړیوالې شورا د قوانینو ټولګې خو د سیالیو په منځ کې د لوبډلمشر د بدلون امر هم کړی دی (په ۲۰۱۲م کال کې هم عیناً قضیه ثبت شوې وه، کله چې د سریلانکا د لوبډلمشر مهېلا جېوردنې په اړه د امپایرانو لخوا میچ ریفري راپور ورکړل شو). خو زیات وخت داسې هم راغلی دی چې د کرکټ نړیوالې شورا له لورې دغه پرېکړې له غبرګون او نقد سره مخ شوې دي، ځکه چې لوبډلو د خپلو مهمو غړو د بایللو له امله سترې سیالی بایللې دي.
اوسمهال په نړیوال کرکټ کې اصل دا دی



چې د توپ اچونې اړخ لوبډلمشر يا کپتان په ټاکل شوي وخت کې د اوړونو د نه بشپړولو له امله جريمه کېږي، په دغو جريمو کې د لوبډلمشر نغدي جريمه کېدل او له يوې يا څو لوبو څخه بنديدل هم راغلي دي. وروستی ځل چې په نړيوال کرکټ کې د سلو اوور رېټ له امله يو لوبډلمشر له لوبې بند کړل شو، د ويسټ انډيز لوبډلې د ټېسټ کپتان جېسن هولډر و چې د انګلستان پر وړاندې له يوې ټېسټ لوبې څخه کېښنول شو، چې بيا ياده پرېکړه د ګڼ شمېر کرکټ څارونکو او مينوالو له تونډو نيوکو او غبرګونونو سره مخ شوه چې له مخې يې ويسټ انډيزی لوبډله په خورا مهمو سياليو کې له خپل بهترين لوبغاړي پرته ولوبيده. د تاريخچې له مخې له ۲۰۰۳م کال راهيسې تر ټولو ډېر ځل د ويسټ انډيز لوبډلې دغه اصل مات کړی دی او ډېری وخت په دې نه دي توانېدلي چې اوړونه په ټاکلي وخت کې پای ته ورسوي. د دې کار ستر لامل دا ياد شوی دی چې د ويسټ انډيز کرکټ لوبډله کې ټول چټک توپ اچونکي لوبېدلي دي او په مسلسله توګه يې د يوې اوږدې مودې لپاره ښه ورو يا سلو توپ اچونکی نه دی موندلی چې په لوبډله کې ولوبېږي. چټک توپ اچونکي د ورو توپ اچونکو په پرتله د اوړونو په بشپړلو کې ډېر وخت اخلي له همدې امله ويسټ انډيزی لوبډله هم ډېری وخت په دې نه ده بريالی شوې چې په ټاکلې موده کې ورکړل شوي اوړونه پوره کړي. شمېرې دا ښيي چې په تېرو ۲۸ کلونو کې ويسټ انډيزی لوبډلې ۴۵ ځله دغه قانون مات کړی او په ټوليزه توګه ۸۸ اوړونه شاته پاتې شوي دي، په بل عبارت دغې لوبډلې په ټوليزه توګه د ۸۸ اوړونو وخت ضايع کړی دی يا يې له لاسه ورکړی دی. له دې وروسته په ترتيب سره پاکستان، هندوستان، سويلي افريقا، انګلستان، استراليا، سريلانکا، زمبابوې او

بنګله دېش هغه هېوادونه دي چې ډېر څله يې دغه اصل مات کړی دی او يو شمېر اورونه يې له لاسه ورکړي دي، تر ټولو کم اورونه چې کومې لوبډلې له لاسه ورکړي دي هغه د نوي زيلاند لوبډله ده چې د ۲۰۰۳م کال راهيسې يې يوازې ۵ څله له اوور رېټ څخه شاته پاتې شوي او ٦ اورونه يې له لاسه ورکړي دي. په لوبډلمشرانو کې بيا ريکي پونټينګ، کريم سميت او سوراف ګنګولي هغه لوبډلمشران دي چې ډېر څله يې اوور رېټ نه دی ساتلی او له نورو يې ډېر اورونه له لاسه ورکړي دي. ريکي پونټينګ په ۲۸۷ لوبو کې د لوبډلې مشري کړې ده او ۳٦ اورونه شاته پاتې شوی دی، کريم سميت بيا په ۲۸٦ سياليو کې کپتان پاتې شوی او د ۳٤ اورونو وخت يې بايللی دی، همدارنګه ګنګولي بيا يوازې په ٦٤ سياليو کې د لوبډلې مشري کړې ده او ۳۱ اورونه يې لوبډله له اوور رېټ څخه شاته پاتې شوې ده.

په دې برخه کې د برياليو يا هغه لوبډلمشرانو په ډله کې، چې يو اوور هم شاته نه دی پاتې شوی، د افغانستان پخوانی لوبډلمشر اصغر افغان دی چې له ټولو وړاندې دی، نوموړي په ۹۵ سياليو کې يې د لوبډلې مشري کړې ده؛ خو هيڅ کله يې هم لوبډله له اوور رېټ څخه شاته نه ده پاتې شوې. بل کپتان د بنګله دېش مشفق الرحيم دی چې په ۹۵ سياليو کې د لوبډلې د مشر په توګه يې د کوم اوور وخت له لاسه نه دی ورکړی. په دې ډله کې د افغان لوبډلې نور مشران محمد نبي او نوروز منګل هم شتون لري؛ چې په ٤۰ او ۳۵ سياليو کې د کپتانی کولو سره سره اوور رېټ سره سم تللي دي او کوم اوور يې له لاسه نه دی ورکړی.

د پاکستان پر وړاندې

د نړیوالو یو ورځنیو لوبو لوبلړۍ وځنډول شوه

د کرکټ نړیوالې شورا د غوره لیګ لوبو په لړ کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ درې یو ورځنۍ لوبې د لوجستیکي ستونزو او د چمتووالي لپاره د وخت نشتوالي له امله وځنډول شوې. د دغې لوبلړۍ د ځنډولو پرېکړه د افغانستان او پاکستان کرکټ بورډونو د مشرتابه د هوکړې په پایله کې وشوه. ټاکل شوې وه چې یاده لوبلړۍ په عربي متحده اماراتو کې سپیټمبر میاشت کې ترسره شي، خو بیا پرېکړه وشوه چې دغه سیالۍ به د سریلانکا په همبنټوټا کې ترسره شي؛ چې په پایله کې د سفر ستونزو د افغانستان کرکټ

بورډ دي ته اړ کړ چې په پاکستان کې د لوبو په ترسره کولو غور وکړي. د افغانستان اوسني حالت او په لوبغاړو د هغې نسبي اغېز په پام کې نیولو سره د دواړو هېوادونو له لوري پرېکړه وشوه چې یادې سیالۍ به په ۲۰۲۲م کال کې ترسره کړي. د افغانستان کرکټ بورډ پخواني اجرایوي رییس ډاکټر حامد شینواري د سریلانکا کرکټ بورډ څخه د دوی د هر اړخیز ملاتړ مننه وکړه او زیاته یې کړه چې په سریلانکا کې د کرونا ویروس قضیو زیاتېدل یو له مهم لاملونو څخه و چې باید لوبې په بل ځای کې ترسره شوې وای.

ښاغلي شینواري زیاته کړه:«مونږ په سریلانکا کې د سیالیو په ترتیبولو کې زیات وخت له لاسه ورکړ، په همدې اساس پاکستان ته له چمتووالي پرته په دومره لنډ وخت کې سفر کول؛ زمونږ د لوبغاړو لپاره امکان نه لري»

د یادونې وړ ده چې د کرکټ نړیوالې شورا د غوره لیګ دغه درې یو ورځنۍ لوبې ۳۰ نمرې لري چې د افغانستان لپاره خورا ارزښتمنې دي.

Shpageeza
Cricket League

د آمو نهنګان

بندامیر شاماران

دبست ساتونکي

HINDUKUSH STARS
هندوکش ستوري

د کابل بازان

د مس عینک اتلان

PAMIR ZALMI
پامیر زلمي

دسپین غر زمریان

Shpageeza Cricket League

AMO SHARKS (SQUAD)

1	**Javid Ahmadi (C)**
2	Ihsanullah Janat
3	Dawlat Zadran
4	Darwish Rasooli
5	Abdul Wasi Noori
6	Munir Ahmad Kakar
7	Yousuf Zazai
8	Zahid Zakhail
9	Shawkat Zaman
10	Fazal Niazi
11	Jamshid Mir Alikhail
12	Baheer Mahboob
13	Arif Khan
14	Nasrat Quraishi
15	Rahim Mangal
16	Yahya Khan
17	Kamran Hotak

BAND-E AMIR DRAGONS (SQUAD)

1	**Hazratullah Zazai**
2	Rashid Khan
3	Nijat Masood
4	Farmanullah Safi
5	Nasir Totakhail
6	Asif Musazai
7	Waqar Salamkhail
8	Ikram Alikhail
9	Mohammad Sadar
10	Imran Mir
11	Irfanullah Safi
12	Ihsanullah Ihsan
13	Younus Ahmadzai
14	Khalid Zahidi
15	Rahmat Sahak
16	Zia ul Haq Parwani
17	Zahid Shirzad

Shpageeza Cricket League

BOST DEFENDERS (SQUAD)

1	**Samiullah Shinwari**
2	Farhan Zakhail
3	Mohammad Wasim
4	Abid Taniwal
5	Naveed Eshak
6	Waqar Eshakzai
7	Suliman Zazai
8	Qasim Oryakhil
9	Asghar Atal
10	Sami Totakhail
11	Hayatullah Naseri
12	Asadullah Matani
13	Zia ur Rahman Akbar
14	Abdul Malik
15	Abdul Rahman
16	Suliman Safi

HINDUKUSH STARS (SQUAD)

1	**Hamid Hassan**
2	Noor Ali Zadran
3	Mirwais Ashraf
4	Zahid Saleemi
5	Bahar Ali Shinwari
6	Muslim Musa
7	Nisar Wahdat
8	Zia ul Haq Eisakhail
9	Noorul Haq Malikzai
10	Abdullah Adil
11	Shams ur Rahman
12	Perwiz Malikzai
13	Nasim Surkhrodi
14	Imran Mohammadi
15	Fitratullah Khawari
16	Waheedullah Shafaq
17	Usman Adil
18	Riaz Hassan

Shpageeza
Cricket League

د آمو نهنګان

بند امیر ښاماران

دبست ساتونکي

HINDUKUSH STARS
هندوکش ستوري

د کابل بازان

د مس عینک اتلان

PAMIR ZALMI
پامیر زلمي

د سپین غر زمریان

Shpageeza Cricket League

KABUL EAGLES (SQUAD)

1	**Rahmanullah Gurbaz (C)**
2	Shahidullah Kamal
3	Rahmat Shah
4	Sharafuddin Ashraf
5	Azmatullah Omarzai
6	Rahmanullah Zadran
7	Akbar Ali Khosti
8	Nangiyal Kharotai
9	Ibrahim Safi
10	Farid Ahmad Malik
11	Zia ur Rahman Sharifi
12	Fazalhaq Farooqi
13	Emal Shaheen
14	Waheedullah
15	Khalil Ahmadzai
16	Khalil Gurbaz
17	Latif Mirzakwal



MIS-E AINAK KNIGHTS (SQUAD)

1	**Hashmatullah Shahidi (C)**
2	Mohammad Shahzad
3	Gulbadin Naib
4	Noor Ahmad Lakanwal
5	Ibrahim Zadran
6	Yamin Ahmadzai
7	Qais Ahmad
8	Hasibullah Lakanwal
9	Afsar Zazai
10	Sediqullah Pacha
11	Tahir Adil
12	Zahir Shehzad
13	Faisal Khan
14	Naveed Zadran
15	Bilal Sami
16	Haji Murad Muradi

Shpageeza Cricket League

PAMIR ZALMI (SQUAD)

1	**Shapur Zadran (C)**
2	Ghamai Zadran
3	Hamaz Hotak
4	Karim Sadiq
5	Wafadar Momand
6	Fazal Zazai
7	Nasir Omar
8	Aftab Alam
9	Juma Gul Miakhail
10	Shabir Noori
11	Mohammadullah Hamkar
12	Allah Noor Naseri
13	Majeed Alam
14	Rokhan Barakzai
15	Islam Zazai
16	Ejaz Ahmad
17	Esmat Alam

SPEENGHAR TIGERS (SQUAD)

1	**Usman Ghani (C)**
2	Najib Zadran
3	Zahir Khan Pakteen
4	Sayed Ahmad Shirzad
5	Karim Janat
6	Sediq Atal
7	Ishaq Rahimi
8	Zubaid Akbari
9	Shafiqullah Ghafari
10	Ibrahim Abdulrahimzai
11	Batin Shah
12	Farhad Momand
13	Nasir Jamal
14	Tariq Stenikzai
15	Tamim Surkhrodi
16	Abid Mohammadi
17	Naseebullah Dawlatzai

rana VOCATIONAL TRAINING CENTER

مرکز تعلیمات مسلکی رنا



RVTC is One-Stop-Shop for Your Certification Needs

Experience

Over 80 years of combined high level domestic and International Management Experience

Member of iVETA

Member of International Vocational Education Technical Association (iVETA)

Partnership

Partnership with Malaysia SG Education Group

Accreditations

City & Guilds and BTEC Accreditation (title Accreditations)

Authorized Test Centers

PEARSON-VUE, PSI, Certiport globally recognized Authorized Test Centers

www.ranavtc.com (+93) 792 127 127

RANA TECHNOLOGIES

RANA TECHNOLOGIES ENTERPRISES

IT HOSPITAL

We're Here to Help You Repair your ICT / ISP Equipment

- Quick Service
- Real-time diagnosis
- Guaranteed-satisfaction

Get your equipment fixed today with a
Special Discount!

CALL NOW!

Contact No: +93 (0) 791 922 198
Email: ith@ranatech.com

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې ځوان لوبغاړي

صدیق اتل

سره مرکه

د افغانستان کرکټ بورډ د مجلې درنو لوستونکو تاسې ته مو دا ځل د تل په څېر یو ځل بیا په زړه پورې مرکه چمتو کړې، هیله ده د پاملرنې وړ مو وګرځي. یاده مرکه د هغه ځوان افغان لوبغاړي سره شوې چې ملي لوبډلې ته یې د لومړي ځل لپاره لار موندلې، دغه ځوان لوبغاړی صدیق اتل نومیږي، چې له مونږ سره یې د خپل کرکټ او شخصي ژوند په اړه معلومات شریک کړي؛ هیله لرو چې مرکه مو خوښه شي او ترپایه یې ولولئ.

پوښتنه: که په سر کې د افغانستان کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته ځان په بشپړ ډول ور وپېژنئ، مهرباني به مو وي؟

ځواب: نوم مې صدیق الله او تخلص مې اتل دی، د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالۍ اوسېدونکی یم، اوس مهال د کابل ولایت په احمد شاه بابا مېنه کې ژوند کوم، له ماشومتوبه کورکې نازولی وم، نو له ډېرې مینې به راته پلار (ددک) ویل چې اوس هم ډېری دوستان او د کورنۍ غړي مې همدا نوم راته اخلي.

پوښتنه: زده کړې مو تر کومې کچې پورې ترسره کړې دي؟

ځواب: د دولسم ټولګي څخه مې د فراغت سند ترلاسه کړی، دا چې زما عمر هم دومره ډېر نه دی؛ نو تمه لرم چې د کرکټ سره یو ځای لوړې زده کړې هم ترسره کړم.

پوښتنه: که دا راته ووایاست چې کرکټ مو کله پیل کړ او څنګه مو ترملي لوبډلې ځان ورساوه؟

ځواب: ډېره مننه! ښه پوښتنه مو وکړه، کرکټ مې د ۲۰۱۷ کال په نیمایې کې پیل کړی، دا چې ما په کورنې کرکټ کې ډېر زیار ویستلی و، نو په همدې اساس روزونکو او د کرکټ بورډ غوراوي څانګې په ما باور وکړ او لومړی مې په (۲۰۱۸) م کال کې نولس کلنې لوبډلې ته لار ومونده چې دا دی اوس د پاکستان پر وړاندې د ملي لوبډلې په نوملړ کې مې هم نوم راغلی.

پوښتنه: د پاکستان سره د لوبلړۍ نوملړ کې مو چې کله خپل نوم ولید څه احساس مو وکړ؟

ځواب: په دې کې به هېڅ شک نه وي که ووایم چې زما ژوند کې به خوږه خاطره همدا وي چې خپل نوم مې نوملړ کې ولید، زه کورکې ناست وم چې تره (کاکا) مې له بهرڅخه کور ته چټک راننوت ویل یې د پاکستان پر وړاندې لوبو ته د افغانستان د ملي لوبډلې سکواډ اعلان شوی، زه نورو ملګرو لوبغاړو ته په تمه وم چې ایا فلانکی به وي او که نه؟ کله چې د کرکټ بورډ فیسبوک پاڼې ته ننوتم او په خپل نوم مې سترګې ولږېدې؛ نو له ډېرې خوشالۍ ژړا راغله، زمونږ ټوله کورنۍ او په ځانګړې ډول زما مور ډېره خوشاله شوه. زه به هیڅکله زما د مور لومړۍ خبره چې زما په سکواډ کې له شامېلېدو وروسته یې راته وکړه هېره نه کړم، مور جانې مې راته وویل:« بچیه! د افغانستان لپاره د لوبېدو چانس درکړل شوی، په پوره ایمانداری د خپل هېواد لپاره ولوبېږه او د افغانستان درې رنګه بیرغ ته لا ډېرعزت ور په برخه کړه».

پوښتنه: مخکې مو د پاکستان سره د راتلونکې لوبلړۍ په سکواډ (نوملړ) کې ستاسې د نوم یادونه وکړه، څومره په ځان ډاډه یاست چې په زړه پورې سیالۍ به ترسره کړې؟

ځواب: لکه څنګه چې د کرکټ بورډ اداري په ما باور کړی او زه یې د پاکستان پر وړاندې یو ورځنیو لوبو په نوملړ کې غوره کړی یم، نو زما به ټوله هڅه دا وي چې خپله خواري د پخوا په نسبت څو برابره زیاته کړم تر څو وکولای شم په ملي لوبډله کې د ګران افغانستان لپاره ښې لوبې نندارې ته وړاندې کړم. که چېرته په لوبډله کې د لوبېدو چانس ترلاسه کړم؛ نو په ځان باوري یم چې د خپل هېواد لپاره به په زړه پورې لوبې ترسره کړم.

پوښتنه: کله مو داسې فکر او تصور کړی و چې تاسې به د ملي لوبډلې برخه وګرځئ ؟

ځواب: هو! ما په خپل ځان کې د کرکټ وړتیا لیدله، خو دومره فکر مې نه و کړی چې زه به د پاکستان سره د راروانو لوبو لپاره د سکواډ یا نوملړ برخه شم، یوه اندېښنه به تل راسره وه او هغه دا وه چې

زما په حق کې ظلم و نه شي؛ خو د الله په فضل هغسې ونه شول، بلکې برعکس د افغانستان کرکټ بورډ لا ډېر وهڅولم چې له ځانه نوره وړتیا هم ښکاره کړم.

پوښتنه: هغه کومه سیالي وه چې تاسې په کې ډېرې او ښې منډې ترسره کړې؟

ځواب: کرکټ ته ډېره لږ موده کېږي چې راغلی یم او لوبې مې کمې کړې؛ خو خپله وړتیا مې په کورني کرکټ او نولس کلنو ملي لوبډله کې ښودلې، د نولس کلنو ملي لوبډلې سره د ۱۹ کلنو په نړیوال جام کې ولوبېدم، چې همدې سیالیو کې مې د صوت افریقا نولس کلنو ملي لوبډلې پر وړاندې ۴۰ منډې جوړې کړې.

پوښتنه: یو لوبغاړي ته څه کول په کار دي چې د کرکټ په هره برخه کې د وړتیا درلودونکی شي؟
ځواب: لومړی خو باید لوبغاړی خپل ډسپلین ته ډېره پاملرنه وکړي او ورپسې د کرکټ اړوند تمرینات په مسلسل ډول او د روزنکو له لوري د ورکړل شوي پلان مطابق ترسره کړي، خپل خوراک کې ډېر احتیاط وکړي، خوب په خپل وخت او اندازې سره وکړي، د روزونکو مشورو او لارښوونو ته ډېرمتوجه واوسي. ترټولو مهمه داده چې یو لوبغاړی باید له خپل مسلک سره مینه ولري او په شوق او علاقه خپلو لوبو او تمریناتو ته ادامه ورکړي. لوبغاړي باید ذهني ارامتیا او سکون ولري او کوشش وکړي چې د فزیکي غښتلتیا ترڅنګ په ذهني ډول هم قوي واوسي.

پوښتنه: د ځان په ګډون په ملي لوبډلې څومره باوري یاست چې له پاکستان سره ترسره کېدونکي لوبلړی به په خپل نامه کړئ؟
ځواب: مونږ په ډېر باور او ځواکمني روحیې سره دغه راروني لوبلړۍ ته ورځو او په اطمینان سره درته ویلی شم چې یادې لوبې به مونږ ګټو او د خپلو مظلومو هېوادوالو پر مخونو به خوشالي او خندا راولو. موږ په لوبډله کې داسې لوبغاړي لرو چې د نړۍ په سترو لیګونو کې لوبېږي او خپله وړتیا یې نړیوالو ته ښودلې، ددې ترڅنګ که تېر نړیوال جام سیالیو ته نظر وکړو، د پاکستان پر وړاندې مو ډېره سخته مقابله وکړه او یوه تمریناتي لوبه مو هم ترې وګټله. افغان کرکټ ملي لوبډله یوه منل شوې او پیاوړې لوبډله ده او کولای شي چې سترو لوبډلو ته ماتې ورکړي.

پوښتنه: د یو لوبغاړي لپاره تکړښت(فېټنس) څومره اړین دی؟
ځواب: زما په نظر په لومړي قدم کې باید لوبغاړی خپل فېټنس په نظر کې وساتي، فېټنس یا تکړښت لوبغاړي ته حوصله او توان ورکوي، یعني کولای شي چې تر ډېره ویکټ وساتي، ښه توپ اچونه او توپ نیونه ترسره کړي، ستړیا احساس نه کړي او همدارنګه

لوبغاړي ته دماغي ارامتيا ورکوي چې بيا تر ډېرې کچې د فېټ او تکړه لوبغاړو تر اغېز لاندې نه راځي.

پوښتنه: که دا وواياست په کورنيو او په بهرنيو لوبغاړو کې مو د خوښې لوبغاړی څوک دی؟

ځواب: له کله چې مې د کرکټ سره مينه پيدا شوې، نو ما به د انګلنډ لوبډلې لوبغاړي الېسټر کوک له لوبې ډېر خوند اخېست، هماغه و چې مينوال يې هم شوم، که څه هم اوس يې له نړيوال کرکټ څخه استعفا کړې، خو بيا مې هم د خوښې لوبغاړی دی او په کورنيو لوبغاړو کې مې بيا رحمت شاه زرمتی د خوښې لوبغاړی دی.

پوښتنه: که د کرکټ لوبه مو نه کولی؛ نو د ځان لپاره مو کوم مسلک غوره کاوه؟
ځواب: که د کرکټ لوبغاړی نه وم؛ نو د پلار یوازینی هیله مې ژوندی کوله یعنې لوړې زده کړې مې کولې او له انجینری څانګې سره ډېره مینه لرم؛ نو انجینري مې لوسته او کوشش مې کاوه چې یو مسلکي او نوښتګر انجینر وای. .

پوښتنه: مور، اوربدلي چې ته ډېر خوږ غږ لرې او ځینې وخت ترنم هم کوې، نو ضرور به موسیقي هم اورې د خوښې سندرغاړی مو څوک دی؟
ځواب: هو! کله ناکله ملګرو سره راټولېږو او یا هم سفر کې ورسره وم؛ نو په ما ترنم کوي، موسیقی سره ډېره

مینه لرم، خو کله چې فارغ وخت وي اورم يې او د خوښې سندرغاړی مې د کوزې پښتونخوا کرن خان دی.

پوښتنه: په وروستیو کې که خپلو هېوادوالو او د کرکټ بورډ مجلې لوستونکو ته کوم پیغام لرې؛ مهرباني؟
ځواب: زما خپلو هېوادوالو او لوستونکو ته دا پیغام دی، چې په خپلو اولادونو زده کړې وکړي، ځوانان باید د خپل هېواد په رغونه کې نه ستړی کېدونکي هلې ځلې ترسره کړي او بله دا چې ورزش د ښه او روغ صحت ضامن دی؛ نو کوښښ دي وکړي چې په هر حال کې ورزش وکړي.

بهترین ورزشگاهای کرکت در جهان

استدیوم کرکت لاردز

لاردز به عنوان خانه کرکت شناخته می شود که گنجایش 30،000 تماشاگر را دارد. این استدیوم از یک قرن به اینسو از مهم ترین مکان ها برای برگزاری بازی های کرکت بوده است. لاردز قدیمی ترین استدیوم کرکت است که در سال 1814 تاسیس شد. بنیانگذار آن، توماس لورد یک بازیکن کرکت بود که زندگی حرفه‌یی اش از سال 1787 تا 1802 به طول انجامید و در این مدت او برای باشگاه های چون میدلسکس و مریلبون بازی کرد. اولین مسابقه تست در سال ۱۸۸۴ میلادی بین تیم های انگلیس و استرالیا در این استدیوم انجام شد که در نهایت، بازی با تفاوت یک نوبت و پنج دوش به سود تیم میزبان پایان یافت. همچنین قدیمی ترین موزیم ورزشی دنیا (موزیم ام سی سی) در محوطه استدیوم لاردز قرار دارد. در این موزیم مشهورترین خاطرات و اسباب کرکت از جمله خاکستر یا اشیز موجود است. بالاترین امتیاز یا دوش ۳۳۳ را گراهام گوچ در این استدیوم انجام داده است، در حالیکه بهترین فیگور توپ اندازی لاردز یان بوتهام است که با دادن 34 دوش هشت ویکیت بدست آورده است. بازیکنان همه کشورها اکنون هم رویای بازی کردن در این استدیوم را دارند.

استدیوم کرکت ملبورن

استدیوم ملبورن به عنوان بهترین مکان ورزشی استرالیا شناخته می شود، بیش از صد سال است که میزبان بسیاری از بزرگترین مسابقات فوتبال و کرکت استرالیا است. این استدیوم در سال 1853 تأسیس شد که تا سال ۲۰۲۱ م یکی از بزرگترین استدیوم های کرکت جهان بود. اولین بازی بین المللی کرکت در این استدیوم در سال ۱۸۷۷م بین استرالیا و انگلستان انجام شد. همچنان این استدیوم میزبان جام جهانی بازی های یک روزه در سال ۲۰۱۵ بود، جایی که استرالیا نیوزلند را در حضور 93013 تماشاچی شکست داد. استدیوم ملبورن همچنان به غیر از کرکت، میزبان بازی های راگبی، المپیک تابستانی، تینس، دوچرخه سواری و فوتبال نیز بوده است.

استدیوم موترا یا نریندرا مودی

استیوم کرکت نرندرا مودی، که معمولاً به عنوان استدیوم موترا شناخته می شود که در سال ۲۰۲۱ افتتاح شد و اکنون با داشتن ظرفیت ۱۳۲۰۰۰ تماشاچی به عنوان بزرگترین استدیوم کرکت جهان شناخته می شود.

موترا تنها استدیومی است که ۱۱ پیچ در کنار هم و چهار دریسینگ روم یا اطاق لباس برای بازیکنان دارد که این امکان را مساعد میسازد تا مسابقات پی در پی هم در یک روز برگزار شود. این استدیوم دارای امکانات زیادی مانند یک حوض آبازی، یک آکادمی کرکت سربسته، میدان های بدمینتون و تنیس، یک میدان اسکواش، یک ساحه تنیس روی میز، یک سینما و یک باشگاه با سه پچ (Pitch) و 50 اتاق است.

استدیوم بین المللی راجیف گاندی

این استدیوم در حیدرآباد هند واقع شده است و گنجایش آن 55000 نفر است. در سال 2005، پس از تکمیل کار ساخت و ساز، اولین بازی بین المللی بین هند و آفریقای جنوبی در این استدیو انجام شد. در مجموع این استدیوم تاکنون پنج بازی تست، شش بازی یک روزه و چندین بازی بیست آوره بین المللی را میزبانی کرده است.

استدیوم کرکت سدنی

استدیوم کرکت سیدنی در پارک مور در شرق مرکز استرالیا واقع است که به عنوان یکی از مشهورترین، استدیوم های کرکت در جهان شناخته می شود. این استدیوم در سال 1848 تأسیس شد و اکنون ظرفیت 48،601 تماشاچی را دارد. در 15 دسامبر سال 1928م، استدیوم کرکت سدنی شاهد حضور 58446 تماشاچی در بازی استرالیا مقابل انگلستان بود. سر دونالد بردمن بیشترین دوش را در این استدیوم انجام داده است، وی در سال 1929م برای تیم نیو ساوت ویلز ۴۵۲ دوش انجام داده است.

PAN BAHAR
DURBI
ASTRAL PIPES

World Largest Cricket Stadium

Chandrakant Pandit kept the side in good stead. Towards the end, Indians needed 3 runs to win with Ravi Shastri and Maninder Singh at the crease.

When the scores were tied, Maninder was given out by umpire Vikram Raju as the match became only the second tied Test after 1025 Test matches - the first being the famous match between West Indies and Australia in 1960.

Match Details

IND v AUS, 1st Test, Australia in India Test Series, 1986

Date: Thursday, September 18, 1986
Monday, September 22, 1986

Toss: Australia won the toss and opt to bat
Time: 1:00 AM (Sep 18)

Venue: MA Chidambaram Stadium, Chennai

Umpires: Dara Dotiwalla, Vikramraju

Marsh. Since the trio bid adieu to the sport a little over two years ago, Australia had lost twice each to the West Indies and New Zealand, once to England and had managed to just about draw a series against India at their home.
However, on day one of the first Test, the Aussies did well to shed off their underdog tag with a century from opener David Boon. Dean Jones then played one of the most courageous knocks of all time.
Jones' 210 was the highest score by an Australian in a Test against India. The knock took him 503 minutes, 330 deliveries and included 27 boundaries and two sixes. By the time he was dismissed after bouts of vomiting at the crease, he had to be taken to the hospital straight away.
India responded well with half centuries from Kris Srikkanth, Mohammad Azharuddin, Ravi Shastri and a 119-run hand from Kapil Dev. Australia showed no urgency in the 3rd innings and it came as a surprise when skipper Allan Border declared on the overnight score. Indian needed 348 runs to win in 87 overs on the last day.
Handy knocks from Srikkanth, Mohinder Amarnath, Azharuddin and

Test cricket mirrors life. The ebbs and flows of the format have given birth to some of the most breath-taking cricketing epics. A Cricket World Series, The Best of Tests, highlights the finest of of these spectacles.

Match Summary

AUS 574/7dec, 170/5dec (49)
IND 397/10, 347/10 (86.5)

Result - Match tied
Player of the Match - Dean Jones

It was September and India's southern city of Madras (now Chennai) felt like a furnace. India had just returned after a famous win from their tour of England. Australia, on the other hand, were trying to overcome the retirement of Greg Chappell, Dennis Lillee and Rodney

THE BEST OF TESTS

Dean Jones 'seeing' double as India-Australia tie back in 1986

Courtesy: www.cricketworld.com

STEVE WAUGH

After tearing his calf midway through the third Test on August 24, 2001, many thought Steve Waugh's Ashes were over. Despite the fact that Australia led the series 3-0, Waugh decided to play the last match because his wife "commanded" him to do so.

Against all odds, the rugged character returned for the final match at The Oval, smashing an undefeated 157 on one leg to put the final nail in England's coffin.

Australia thrashed England 4-0 to win the Ashes for the seventh time in a row. And as his wife commanded him to do, the Australian captain was there to lead from the front & lift the urn again.

MARK TAYLOR

It was 1998 and Australia was facing Pakistan in a Test match in Peshawar. Mark Taylor, the Australian captain, was on 334 on the second day of the Test, equaling Don Bradman's record of 334. So what happened next?

He chose not to go past Sir Don Bradman and rather chose to declare being the captain despite the team suggesting to bat a bit on Day 3 & even try to surpass the highest Test score of that time-375 by Brian Lara.

He stated that he wanted to be remembered with Don Bradman in the record books, thus he made the ultimate sacrifice of not breaking Bradman's record. This is and always will be one of the most beautiful stories of selflessness in cricket.

HASHIM AMLA

One of the most underrated batsmen of the modern era, his batting stats are no less than the likes of Virat Kohli & Ab De Villiers. He has been instrumental to the success of South Africa in the last decade. Amla scored 25 runs off 244 balls with a strike rate of just above 10. This innings came against India in 2015 when South Africa was looking to draw the test match on a spinning Delhi wicket. He along with AB De Villiers showed immense patience in the middle. At one time, it was looking that Amla & De Villiers would keep blocking the Indian bowlers throughout the day & pull off a draw from the jaws of defeat. Eventually, India won the match by a mammoth 337 runs.

SOURAV GANGULY

When the name Sourav Ganguly is mentioned, the first image that comes to mind is of him waving his T-shirt in the air during the NatWest Trophy final at Lord's. But few people recall Sourav Ganguly's great knock in the same match, which he played with a really selfless mentality. In the final, the Indian team had to chase down a 326-run target which seemed like an impossible hurdle to cross 19 years ago.

TOP 10 SELFLESS KNOCKS IN THE HISTORY OF CRICKET

YUVRAJ SINGH

Known to be one of the cleanest strikers of the cricket ball, the story of Yuvraj Singh suffering from cancer while playing & still making it to the national team again is an inspiring one.

One such innings came in the 2011 WC against West Indies in the scorching heat of Chennai. While Yuvraj was batting, he felt uneasy & soon started vomiting as well. The umpires suggested that he go back to the dressing room, but he refused.

He ended up scoring 113 runs off 123 balls including 10 fours & 2 sixes and even had bowling figures of 2-18 in 4 overs. He was awarded the Man of the Match for his efforts. India went on to win the WC & Yuvraj was awarded the Player of the Tournament.

Courtesy: crictracker.com | Remaining Part

پوهنتون کاردان
KARDAN UNIVERSITY

A vibrant university inspiring academic and professional excellence

Founded in 2002, Kardan University is the first and leading private university in Afghanistan. Over 4,000 students, 25% of whom are women, currently pursue diploma, undergraduate, and graduate programs at Kardan University's three campuses in Kabul.

With an alumni network of 30,000, Kardan University is a household name in Afghanistan renowned for its academic excellence. More than 600 Kardan University graduates have received prestigious graduate scholarships, including Fulbright, Chevening, DAAD and more.

In September 2018, Kardan University earned the Ministry of Higher Education's national accreditation and became the highest-rated institution among both public and private universities in Afghanistan.

Kardan University has received business program accreditation through the International Accreditation Council for Business Education (IACBE) and is candidate for accreditation with ACBSP and AACSB. The university is also member of CHEA International Quality Group (CIQG), Asia Pacific Quality Network (APQN) and Global Business School Network (GBSN).

In 2012, Kardan University helped lay the foundation of the Association of Private Universities and Institutes of Higher Education in Afghanistan and served as its elected Chair for two consecutive terms. Kardan University's strategic initiatives are articulated in its Vision of Excellence, a five-year strategic plan (2015-2020), promoting excellence in research, faculty development, student growth, policies and procedures and public engagement.

Learn more at kardan.edu.af

MN7

ACB's
Cloth Manufacturing Partner

KABUL SPORTS

Azizi Bank

International Master Debit Card

24 HOURS CUSTOMER CARE NO : 1515

www.azizibank.af